د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د کتاب
"د نیکۍ دعوت" یو قسط مع ترمیم و ضافه

# د نیکو بندګانو مرتبه

پښتو




شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامی، حضرت علّامه مولانا ابو بلال
مُحَمَّد اِلیاس عَطّار قادِری رَضَوی
دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

(دا مضمون"نیکی کی دعوت" صفحه 358 تا 375 نه اخستے شوے دے.)

# د نيکو بندګانو مرتبه

دعائے عطّار: يا رَبَّ الـمصطفٰی! څوک چې دا رساله "د نيکانو بندګانو مرتبه" اولولي يا ئي واوري هغه ته خپلو نيکو بندګانو سره د محبت ساتلو او د نيکانو د صُحبت اختيارولو توفيق ورکړې او بے حسابه ئي اوبخښې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د درود شريف فضيلت

حضرت عارِف بِن عُبّاد رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي چې حضرت ابو حسن شاذلي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائيلي دي چې زه په سفر کښې ووم. يوه شپه داسې ځائے ته اورسيدم چې هلته خوفناک سرِے خواره ځناور ډير زيات وو. ځناورو ما ته نقصان رارسوَل غوښتو. زه په يو اوچت ځئ کښيناستم او اومې وئيل: قَسَم په خُدائے! زه به په حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُرُود شريف لوَلم ځکه چې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: "څوک چې په ما يو ځل دُرُود شريف وائي **اللّٰه** پاک په هغه لس ځله رحمت ليږي." چې **اللّٰه** پاک په ما باندې [د يو يو دُرُود په برکت لس] لس رحمتونه راليږي نو زما شپه به د **اللّٰه** پاک په رحمت کښې تيره شي. فرمائي چې ما هُم داسې اوکړل نو زه د شپې د هيڅ نه هُم اُونه ويريدم [يعنې يو ځناور هُم زما خوا له را نغے]

(افضل الصلوٰۃ علٰی سیّد السادات، ص۲۲)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د یو نیك بنده په وجه د ګاونډ د سلو کورونو نه مُصیبتونه لرې کیږي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! دا خبره همیشه یاده لرئ! که تاسو د مذهبي حُلیے [انداز] والا ئې نو سنجیده اوسئ او ښه خوش اخلاقه جوړ شئ، ستاسو مَنصَب داسې دے چې ستاسو یو مُسکا د چا د راروانو نَسلونو تقدیر بدلولې شي، او د چا نه یو ځل مخ اړول یا د چا رټل د هغه د راروانو نسلونو مَعَاذَالله د ګمراهئ کندې ته د غورزَوَلو سبب جوړیدې شي، لهٰذا همیشه د هر یو ملاقاتي سره په **نرمئ** نرمئ او صرف په نرمئ ملاقات کوئ او هغوئي ته د **نیکئ په دعوت** ورکولو کښې سُستي مه کوئ، کیدے شي چې ستاسو په یو کس **اِنفِرادي کوشش** د چا د خاندان د اِصلاح باعِث جوړ شي! څنګه چې تاسو اوس په **مَدَني سپرلي** کښې واوریدل چې کله په یو کس باندې اِنفِرادي کوشش کامیاب شو نو اَلْحَمْدُلِله ټول کور ته د هغې برکتونه ورسیدل، د ښو خلقو د برکتونو به څه وائې! د **دَعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوي د 853 صفحو کتاب"**جَہَنَّم میں لے جانے والے اعمال**" جلد اوَّل صفحه 809 کښې دي: د ټولو نَبیانو تاجوَر صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **الله** تعالیٰ د نیك مسلمان په وجه د هغه د ګاونډ د سلو کورونو نه مُصیبت لرې کوي، بیا هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا آیتِ مبارَکه تلاوت کړو:

وَلَوْ لَا دَفْعُ اللّٰهِ النَّاسَ بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْاَرْضُ (پ2، البقرۃ: 251)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: او که الله په خلقو کښې بعضې په بعضو دفع نه کړې نو ضرور به زمکه تباه شي.

(اَلْمُعجمُ الاَوسط لِلطَّبرانی ج3 ص129 حدیث408)

تونیکوں کا فیضان مولیٰ عطا کر معاف فضل سے میری ہر اک خطا کر

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## درې مَدَني فیسونه

د **الله** والؤ د **نیکئ د دعوت** ورکولو انداز هم عجیبه وي. په دې باره کښې یو ایمان تازه

کوونکے حکايت واورئ او عبرت حاصل کړئ: حضرتِ سَيِّدُنا حاتِمِ اَصَمّ رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه ته يو مالدار کس د طعام دعوت ورکړو، هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه انکار وکړو خو هغه کس نه منله او ډيره زاري ئي اوکړه نو هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه ورته اُوفرمائيل چې: که ته زما دا **درې شرطونه** اُومنې نو درېه شم: (1)زه چې کوم ځائے غواړم کښينم به (2)چې څه غواړم هغه به خورم (3) چې څه وايم هغه به کوے، هغه مالدار کس هغه درې واړه شرطونه اُومنل. د وَلِيُّ الله د زيارت [يعني ليدلو] د پاره ډير خلق راجمع شو. د ډير غټ طعام بندوبست شوے وو. په ټاکلي وخت **حضرت** سَيِّدُنا حاتِمِ اَصَمّ رَحْمَةُ اللهِ عليه هم تشريف راوړو او کوم ځائے چې د خلقو **څپلۍ** پرتې وې هلته کښيناستلو. ولې چې شرط وو "**چې کوم ځائے غواړم کښينم به**." لِهٰذا کوربه هيڅ اُو نه وئيل. کله چې طعام شروع شو نو خلقو د چرګانو غوښې خوړل شروع کړل خو **وَلِيُّ الله** رَحْمَةُاللّٰهِ عليه خپلې څولۍ ته لاس کړو او **وچه ډوډئ** ئي را اُووِيستله او خوړل ئي شروع کړه. کله چې د طعام سِلسِله خَتمه شوه نو هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِ عليه کوربه ته اُوفرمائيل: "نغرے راوړه او تبخے پرې کيږده،" د حکم تعميل اوکړے شو، چې کله په وور د پاسه تبخے سور انګار شو نو هغوئي رَحْمَةُ الله عليه په هغې ښپې اَبله ښپې اودريدلو! خلق ډير زيات حيران شو!! هغوئي رَحْمَةُ الله عليه اُوفرمائيل: "**ما د نن په خوراك کښې وچه ډوډئ خوړلې ده**." دا ئي اُووئيل او د تبخـې نه راکوز شو او حاضرو خلقو ته ئي اُوفرمائيل: اوس تاسو هم وار په وار په دې **تبخـې** اودريږئ او څه مو چې خوړلي دي د هغې حساب ورکړئ. دا ئي چې واوريدل نو خلق په چغو سر شو او ټولو په يو آواز اُووئيل:"يا سَيِّدى! تاسو رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه خو د **الله وَلي** ئي او دا ستاسو **کَرَامت** دے، چرته دا **تَك سُور تبخے** او چرته زمونږه دا نازکې ښپې! مونږه خو ګنهګار دُنيا دار خلق يو." هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عليه اُوفرمائيل: **اے خلقو!** هغه وخت ياد کړئ چې په کومه ورځ به لـمر صرف پاؤ باندې يو ميل لرې وي، اوس لـمر زمونږ نه په کروړونو ميلونو لرې دے او زمونږ طرف ته ئي شا ده او په هغه ورځ به د لـمر مخ زمونږ طرف ته وي، زمکه به د تانبے وي، په هغه سره شوې زمکه

غور اوكړئ او بيا دے تود تبخـي ته سوچ اوكړئ! دا تبخے خو د دُنيا په وور تود كړے شوے دے. قَسَم په خدائے جَلَّ جَلالُهٗ! د دې تود والے د قيامَت د ميدان د وور د زمكې په مقابله كښې هيڅ هم نه دے، د هغه وور په زمكه باندې به ضرور اودرېږئ ، د سيپاره 30 سُوْرَةُ التَّكَاثُر په آخري آيت كښې رَبُّ العِباد جَلَّ جَلالُهٗ ارشاد فرمائي:

ثُمَّ لَتُسۡـَٔلُنَّ يَوۡمَئِذٍ عَنِ النَّعِيۡمِ ﴿٨﴾

(پ30 سُوْرَةُ التَّكَاثُر 8)

مفهوم ترجمۂ كنزُالاِيمان: بيا بيشكه ضرور په هغه ورځ به ستاسو نه د نعمتونو په حقله تپوس كيږي.

چې تاسو په دې دُنياوي ګرم تبخـي د يو وخت د خوراك د حساب وركولو د پاره نه شئ اودريدلے نو صبا د قيامت په ورځ به په تاسو كښې كوم يو داسې ګرامَت راپيدا شي چې په هغه سره توده زمكه به اودرېږئ او د ټول ژوند د نعمتونو حساب به وركړئ! دا غمژن بيان ئې چې واوريدو نو خلقو په چغو چغو وژړل او د خپلو ګناهونو نه ئې توبه كول شروع كړل. (تَذكِرَةُ الاولياء الجزء الاول ص 222)

يااِلٰہی! جب حسابِ خندۂ بے جا رُلائے
چشمِ گریانِ شفیعِ مرتجٰی کا ساتھ ہو
یااِلٰہی! جب بہیں آنکھیں حسابِ جُرم میں
اُن تبسّم ریز ہونٹوں کی دعا کا ساتھ ہو (حدائقِ بخشش شریف)

شرحِ كلامِ رضا: د "حدائقِ بخشش شريف" د مناجاتو په دې ذكر كړے شوي دويم شعر كښې دا عرض شوے دے: يا **الله** په ورځ د مَحشر چې زما د نافرمانو حساب ما اويَروي او د ستركو نه مې اوښكې رواني وي، اے كاش! په هغه وخت كښې د بے قراره زړونو د قرار، د دواړو د جهانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مُسكا نه د ډكو مباركو شونډو دُعا زما سره ملګري شي. په اولني شعر كښې ئې عرض كړے دے: يا **الله** كله چې د قيامت په ورځ زما د فضولو خنداګانو حساب ما

اوژړوي! کاش! په هغه وَخت کښې د شفاعتِ کُبریٰ تاج په سرکولو والا محبوب صَلَّی اللّٰہ علَیہِ واٰلِہٖ وسلَّم د چا په لور چې اُمِّیدونه ترلے شوي دي هغوئي تشريف راوړي او زما شفاعت اوکړي. يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہ علَیہِ واٰلِہٖ وسلَّم!

ہائے! پھر خندۂ بے جا مرے لب پر آیا
ہائے! پھر بھول گیا راتوں کا رونا تیرا (ذوقِ نعت)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د محشر خوفناکه منظر کشي

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! تاسو اوليدل! وَلِيِّ کامِل حضرت سَیِّدُنا حاتِم اَصَمّ رحمۃُ اللّٰہِ علَیہ څنګه په عجيبه انداز کښې د آخِرت د حساب په باره کښې د "نيکئ دعوت" ورکړو! واقعي د حَشر و نَشر معامَلات ډير تشويشناك دي، د دې نقشه حُجَّةُ الاسلام حضرت سَیِّدُنا اِمام ابو حامِد محمّد بن محمّد بن محمّد غزالي رحمۃُ اللّٰہِ علَیہ په کيمیائے سعادت کښې داسې پيش کړې ده: د مرګ نه پس به (انسان) داسې بدبودار او مُردار شي چې د هغه په ليدلو به خلق پوزې بندې کړي او هغه به په قبر کښې د چينجو خوراك شي او بيا به په قلاره قلاره خاورې شي چې هغه بالکل حقير [يعني سپك] او ذليله څيز دے البته که هغه د مرګ نه پس د څناورو په شان صرف خاورې پروت وے نو هم غنيمت به وو خو افسوس چې داسې به نه کيږي او دا صرف د خاورې کيدَلو نِعمَت به هغه ته نه نصيب کيږي بلکه د قيامَت په ورځ به هغه د قبر نه راپاڅولے شي، د هَيبَت او د ويَرې په مقام کښې به اودرولے شي، هغه وخت به هغه آسمانونو ته ګوري چې هغه شليدلي دي، ستوري راغورزيدلي پراته دي، لمر او سپوږمئ بے نُوره شوي دي او غرونه د مالوچو د پاغوندو په شان خواره واره پراته دي،زمکه بدله شوي ده، د دوزخ فرښتے زندئ [يعني رسۍ] راغورزَوي، دوزخ ګړزيږي، فرښتے د هر يو په لاس کښې اعمال

**نامه** ورکوي، په ټول عُمر کښې ئې چې کوم د بَدئ کارونه کړي وي هغه به وِيني. هر يو به د خپلو خپلو ګناهونو په لوستلو پريشانه کيږي او ورته به وئيل شي چې راشه او جواب ورکړه چې تا داسې وَلې کړي وو؟ داسې دې ولې وئيلي وو؟ ولې ناست او ولې ولاړ وې، ولې دې کتلي وو او وَلې دې سوچ کړے وو؟ که مَعَاذَاللّٰه جواب ورنکړے شي نو دوزخ ته به غوزار کړے شي! هغه وخت به وائي: کاش! چې زه خِنزير يا سپے پيدا کړے شوے وے نو خاورې شوے به وے ځکه چې هغه (ځناوران) د عذاب نه **محفوظ** او آزاد دي. پس کوم کس چې (د بے عَمَله کيدو په وجه) د خِنزير او سپي نه بدتر وي هغه سره **تَکَبُّر** او **فَخر** کول چرې ښائي!

(کیمیائے سعادت ج2 ص717)

یادرکھ ہر آن آخر موت ہے   مت تو بن انجان آخر موت ہے

پیشتر مرنے کے کرنا چاہئے   موت کا سامان آخر موت ہے

بارہا علمی تجھے سمجھا چکے

مان یا مت مان آخر موت ہے

## نه پيدا کيدل قابِلِ رشك دي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! اوس خو مونږ پيدا شوي يو، بيرته تلل نامُمکن دي، کوم چې دُنيا ته لا نه دي راغلي د هغوئې انتظارکونکو يعني بے اولادو لره د غور مقام دے چې په اِنتظار کښې د هغوئې څه نِيَّت دے! د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي اداره **مَكْتَبَةُالْمَدِينه** د 496 صفحو چاپ شوي کتاب ''**کفریہ کلمات کے بارے میں سوال جواب**'' کښې صفحه 5 او 6 کښې ورکړے شوے مضمون ډير عبرت ناك دے چنانچه ليکلي شوي دي: نن چې څوك په دې دُنيا کښې بے اولاده دي هغه عموماً ډير زړه خوري او د ماشوم د پيدا کيدو د پاره د هر قِسمه کوششونه کوي.که د هغه اَصل مَقصد صرف د کور ښائست او د دُنيا مزې وي او په اولاد حاصلولو کښې ئې د آخرت د فائِدے بالکل يو ښه نِيَّت هم نه وي، نو داسې بے اولاده بنده لکه چې په

ناپوهۍ کښې د ”**يو کس**“ په دُنيا کښې د پيدا کيدو او بيا د هغه په ډير غټ امتحان کښې د اخته کيدو خواهش کوي! زما په دې خبره شايد هغه کس پوهيدے شي څوك چې د ”**بدې خاتمے په ويره**“ کښې اخته وي. د يو ويره لرونکي بُزُرګ حضرت سَيِّدُنا فُضَيل بن عَياض رحمۃ اللہ علیہ د فرمان خلاصه دا: **زه د غټو نه غټ نيك بنده** [په قِسمَت] باندې هم رشك نه کووم [يعني د هغه قِسمَت د ځان د پاره نه غواړم] ځکه چې هغه به د قيامت سختۍ وِيني، زه په هغه رشك کووم چې هغه ”هيڅ هم“ نه وي. (يعني هډو پيدا شوے نه وي) (حِلیَۃُ الاولیاء ج8 ص93 رقم 4170 مُلَخَّصاً) اَمِيرُالمُؤمِنين حضرت سَيِّدُنا **فاروقِ اعظم** رضی اللہ عنہ **د ويَرې د غَلبې** په وخت کښې اُوفرمائيل: کاش! چې زه د موره هډو پيدا شوې نه وے! (اَلطَّبقاتُ الکُبریٰ لِابنِ سعد ج3 ص274)

د الله پاک دې په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي.

اٰمِين بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِيِّين صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم

## کاش! چې زه په دُنيا کښې نه وے پيدا شوے

(د ځنکدن سختۍ، د قبر ويره، د محشر سختۍ او د جهنّم خوفناکې کندې په تَصَوُّر کښې راولئ او د **الله** پاک د ويرې نه په لړزان لړزان او په ژړا ژړا دا کلام ولولئ)

کاش! کہ میں دُنیا میں پیدا نہ ہوا ہوتا — قبر و حشر کا ہر غم ختم ہو گیا ہوتا

آہ! سَلبِ ایماں کا خوف کھائے جاتا ہے — کاش! میری ماں نے ہی مجھ کو نہ جنا ہوتا

آ کے نہ پھنسا ہوتا میں بطورِ انساں کاش! — کاش! میں مدینے کا اُونٹ بن گیا ہوتا

دو جہاں کی فکروں سے یوں نجات مل جاتی — میں مدینے کا سچ مچ کتا بن گیا ہوتا

کاش! ایسا ہو جاتا خاک بن کے طیبہ کی — مصطفٰے کے قدموں سے میں لپٹ گیا ہوتا

میں بجائے انساں کے کوئی پودا ہوتا یا — نخل بن کے طیبہ کے باغ میں کھڑا ہوتا

گلشنِ مدینہ کا کاش! ہوتا میں سبزہ یا — بطورِ تنکا ہی میں وہاں پڑا ہوتا

جاں کنی کی تکلیفیں ذَبح سے ہیں بڑھ کر کاش! مرغِ بن کے طیبہ میں ذَبح ہو گیا ہوتا

شور اُٹھا یہ محشر میں خُلد میں گیا عطارؔ

گر نہ وہ بچاتے تو نار میں گیا ہوتا

## که په چپ لاس کښې اعمال نامه راکړے شوه نو څه به کیږي؟

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! واقعي د عِبرَت مقام دے، مونږ ټولو ته د ګناهونو نه ډډه کول پکار دي او د قیامَت په سختو حالاتو باندې په سنجیدګۍ سره غور کول پکار دي په کومه ورځ به چې **الله** تعالیٰ د ټول مخلوق په مخکښې د ګناهونو نه ډکې **اعمال نامے** د لوستلو حُکم فرمائي، آه! هغه وَخت به د حَشر ویرونکي سختۍ پیښې وي، د تَندې د سختۍ نه به ژبه بهر ته راوَتي وي، د لوږې نه به ملا ماتیږي، جَنَّت ته د داخلیدو نه به حصار کړے شوي وي، هر قسمه آسانې به بنده کړے شوې وي، په داسې تکلیف ورکونکي حالاتو کښې به د **لکونو کروړونو ګناهونو نه ډکه اعمال نامه څوک څنګه اولوستے شي!** آه! مونږ ته دا هم معلومه نه ده چې اعمال نامه به زمونږ په ښي لاس کښې راکولے کیږي او که په چپ لاس کښې، چا ته چې اعمال نامه په چپ لاس کښې ورکړے شوه د هغه به څه کیږي ! په سیپاره 29 **سُوۡرَۃُ الۡحَآقّه** آیت نمبر19 نه 37 پورې د اعمال نامے ورکولو کَیفِیَّت اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ داسې بیان کړے دے ، مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو هغه، چا ته چې خپله اعمال نامه په ښي لاس کښې ورکړے شي، وائي به: واخلئ زما اعمال نامه اولولئ ❁ زما یقین وو چې زه به خپل حساب ته رسیږم ❁ نو هغه د زړه د خوښې په خوشحالو کښې دے ❁ په اوچت باغ کښې ❁ چې د هغې ګنګُوري راښکته شوي ❁ خورئ او څښئ په مره خیته، بدله د هغې چې تاسو په تیرو ورځو کښې مخکښې لیږلي وو ❁ او هغه، چا ته چې خپله اعمال نامه په چپ لاس کښې ورکړے شي وائي به: هائے چې په څه طریقه ما ته دا اعمال نامه نه وے راکړے شوې او زه نه پوهیدلے چې زما حساب څه

رنګه دے❁ هائے كاش چې په څه طريقه مرګ زما قِصه ختمه كړې وے❁ زما هيڅ پكار نه شو زما مال❁ زما ټول زور ختم شو (بيا به الله تعالیٰ د جَهَنَّم خازِنانو يعني هلته مقررو فرښتو ته حكم اوكړي)❁ دا اونيسئ بيا طوق ورپه غاړه كړئ ❁ بيا ئې په لـمبې وهونكې وور كښې ډوب كړئ ❁ بيا ئې په هغه زنځير كښې اُوپيئې چې د هغې ناپ اويا لاسه دے ❁ بيشكه هغه د عَظمَت خاوند الله باندې ايمان نه راوړو ❁ او مسكين ته د خوراك وركولو رَغبت به ئې نه وركولو❁ نو نن دلته د ده هيڅ ملګرے نشته ❁ او نه څه د خوراك خو د دوزخيانو وِينې او زَوې❁ دا به نه خوري خو خطاكار.

میزاں پہ سب کھڑے ہیں اَعمال تُل رہے ہیں
رکھ لو بھرم خُدارا عطّاؔر قادِری کا(وسائل بخشش ص 195)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فاروق او مشتاق د مزار مَدَني سپرلے

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! د دُنيا او آخِرت خيرونه موندلو د پاره او د قبر او حشر د وېرې نه د ځان ساتلو ذهن جوړولو د پاره د عاشقانِ رسول دِيني تحريك **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول سر هر دم تړون مضبوط ساتئ، د **نيكئ د دعوت** په مدني كارونو كښې پوره پوره حصه اخلئ، د نيكو اعمالو مطابق خپل ژوند تيروئ، د سُنَّتو د تربيت په **مَدَني قافلو** كښې د عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر تركيب جوړوئ. راځئ! چې د دې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو: چنانچه د ګلزارِ طيبه (سرګودها، پنجاب، پاكستان) د يو اسلامي ورور حلفيه [يعني په قسم سره] د بيان خلاصه ده، غالباً (1428ھ يعني 2006ء) كښې ما ته د يو خپلوان سره په **صحرائے مدينه** كراچۍ كښې د دعوتِ اسلامي د مركزي مجلسِ شورىٰ مرحوم نګران، خوش آوازه نعت خوان، بُلبُلِ روضهٔ رسول، الحاج قاري ابو عُبيد **محمد مُشتاق عطاري** رحمۃ اللہ علیہ او د مركزي مجلسِ شورىٰ دركن **مُفتيئ دعوتِ اسلامي** حضرت علّامه مَولانا الحافظ القاري الحاج ابو

عمر **محمد فاروق عطاري** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ مبارکو مزاراتو ته د حاضرئ سعادت حاصل شو. د غرمې وخت وو، اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ بالکل په وِینبه مونږ دواړو د **حاجي مُشتاق** عطاري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ د مزار نه د **ماسپښين د اذان** آواز صفا واوریدو، بیا هم لږ ساعت پس د **مُفتِئ دعوتِ اسلامي** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ په آواز کښې **اِقامت** واوريدو بيا د حاجي مُشتاق عطاري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ **د تکبيرِ تحريمه** او د نورو **تکبيراتِ** انتقالات [يعني په لمانځه کښې د ښکته پورته کيدو د تکبيرونو د] آوازونو نه مونږ په دې پوهه شو چې هغوئي په مزار شريف کښې اِمامَت کوي. د جَمعې نه پس هم د دُعا آواز هم صفا واوريدو او د دُعا د ختميدو نه پس مونږ د خوشبو چپه هم **محسوسه** کړه. ما په حيرانتيا د ګلزارِ طيبه (سرګودها) يو ذمه دار اسلامي وورور سره په موبائل فون رابطه اوکړه، او واقعه مې ورته بيان کړه. په دې باندې هغه ما ته مبارکي راکړه او د دې ايمان تازه کوونکي **مَدَني سپرلي** په رڼا کښې ئې د **الله** تعالٰی د مقبولو بندګانو اوليائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰہُ السَّلَام د تَصَرُّفاتو او اختياراتو او د **دعوتِ اسلامي** د برکتونو نه خبر کړم. اَلۡحَمۡدُلِلّٰہ دا مې چې واوريدل نو زه ډير خوشحاله شوم، د **الله** تعالٰی کروړونه شکرونه دي چې هغه جَلَّ جَلَالُہٗ په دې نازک دور کښې ما ته د **دعوتِ اسلامي** خوشبودار **مدني ماحول** عطا کړے دے. زه دُعا کووم چې **الله** تعالٰی دې ما د **دعوتِ اسلامي** په مدني کارونو کښې شپه او ورځ مصروف لري او د سُنَّتو ډك ژوند تيرولو او په ايمان او خير د خاتمے سعادت دې راکړي.

اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

دعوتِ اسلامی نے دنیا بھر میں دھوم مچائی ہے
سارے جہاں میں عشقِ محمد کی خوشبو پھیلائی ہے

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ثابِت بُناني په مزار کښې لمونځ کول

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! د دې مَدَني سپرلي نه دا معلومه شوه چې په دعوتِ اسلامي والؤ باندې د پروردګار جلّ جلالهٗ او د مدني سرکار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم بیحده او بیشمیره کرم دے. د الله تعالٰی د نیکو بندګانو په مزار کښې لمُونځ کول هیڅ د حیرانتیا خبره نه ده. د اولیائے کرام رحمهم الله السّلام نه داسې ثابت دي، چنانچه تابعي بُزرګ حضرت سَیِّدُنا ثابِت بُناني رحمةُ الله علیه به دا دُعا غوښتله: ''اے الله! که ته چا ته په قبر کښې د لمُونځ ادا کولو اِجازت ورکوے نو ما ته هم اجازت راکړې.'' د مرګ نه پس اولیدے شو چې هغوئي رحمةُ الله علیه په خپل قبر کښې لمُونځ ادا کوي.

(حِلیَۃُ الاولیاء ج2 ص362 رقم 2568)

## انبیاء علیهم الصّلوٰةُ والسّلام په قبرونو کښې لـمونځونه کوي

انبیائے کرام علیهم الصّلوٰةُ والسّلام هم ژوندي دي او په خپلو قبرونو کښې لمُونځونه ادا کوي، چنانچه د الله تعالیٰ خوږ **محبوب** صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائي: اَلْاَنْبِیَاءُ اَحْیَاءٌ فِیْ قُبُوْرِهِمْ یُصَلُّوْنَ یعني انبیاء په خپلو قبرونو کښې ژوندي دي او لمُونځ کوي. (ابو یعلی ج3 ص216 حدیث 3412) حضرت سَیِّدُنا شیخ عبدُ الوهاب شَعراني رحمةُ الله علیه فرمائي: سرکارِ مدینه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په خپل قبرِ انور کښې ژوندي دے او د اذان او اِقامت سره لمُونځ ادا کوي، هم دغسې نور انبیائے کرام علیهم الصّلوٰةُ والسّلام هم لمُونځ ادا کوي. (کَشْفُ الغُمَّۃ عَنْ جَمِیعِ الاُمَّۃ, الجزءُ الثانی ص63)

چلو اچّھا ہوا کام آگئی دیوانگی اپنی
وَ گرنہ ہم زمانے بھر کو سمجھانے کہاں جاتے
نہ جلتی شمع محفل میں تو پروانے کہاں جاتے
نہ ہوتا در نبی کا تو یہ دیوانے کہاں جاتے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## روضۂ انور نه د اذان او اِقامت آواز

په سَنِ 63 هجري کښې **واقعۂ حُرَّه** پیښه شوه چې په هغې کښې ظالِـمانو یزیدیانو په مَدِینهٔ

مُنَوَّره حَمله اوکړه، 700 صحابهٔ کرام رِضْوَانُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِمْ اَجْمَعِیْن او نور د عامو مسلمانانو سره د لسو زرو نه زيات حضرات شهيدان کړے شُو، د مدينے اوسيدونکي سخت لوټ کړے شُو، په زَرګاؤ باکِره (يعني بے واده) جينکو سره مَعَاذَ الله "زياتے" اوکړے شو. د مَسْجِدُالنَّبَوِيِّ الشَّرِيف عَلٰی صَاحِبِهَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په ستَنو پورې اَسونه اوتړلے شو، د درې ورځو پورې په جُمات شريف کښې خلق د لمانځه نه محرومه کړے شو. په دې موقع صرف مشهور تابعي بُزُرګ حضرت سَيِّدُنا سَعِيد بن مُسَيَّب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه خپل ځان ديوانه جوړ کړو او هلته حاضر اوسيدو، يزيديانو د ديوانه ګڼلو په وجه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه شهيد نه کړو. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: دَ حُرَّه په ورځو کښې د خلقو بيرته راتلو پورې ما هَمِيشه د نَبِيِّ اَکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قبرِ مُبارَك نه د اذان او اِقامت آواز اَوريدلو. (دَلَائِلُ النُّبُوَّة لِاَبِيْ نُعيم ج2 ص567 وغيره)

اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِ سُنّت، مُجَدِّ دِين ومِلَّت مولانا شاه اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په حَدائقِ بخشش شريف کښې عرض کوي:

تو زندہ ہے وَاللہ تُو زِندہ ہے وَاللہ

مرے چشمِ عالم سے چُھپ جانے والے!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مُومِن د فِراست نه اوېرېږئ

اِمامُ الطَّائِفَه حضرت سَيِّدُنا شيخ ابو القاسِم جُنيد بَغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: (زما پير و مُرشِد) حضرت سَيِّدُنا شيخ سَرِي سَقَطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه به ما ته فرمائيل چې خلقو ته وعظ و نصيحت کوه خو ما خپل ځان د دې اهل نه ګڼلو په دې وجه مې هِمَّت نه شو کولے. يو ځل د جُمعے په شپه جنابِ رِسالَت مآب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې په ما کرم اوکړو او اوئې فرمائيل: "**خلقو ته نصيحت کوه**"زه راپاڅيدم او د سحر د انتظار کولو نه بغير د (خپل روشن ضمير پير) حضرت سَيِّدُنا

**شيخ سَرِي سَقَطي** رحمۃُاللہِ علیہ په خدمت کښې حاضر شوم. (زما د عرض کولو نه مخکښې) هغوئي (د غيبو خبر راکړو او) اوئې فرمائيل: ”تر څو چې درته سرکارِ نامدار، د مدينے تاجدار صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم پخپله اُو نه فرمائيل نو تا زما په خبره يقين نه کولو.“ حضرت سَيِّدُنا شيخ جُنيد بَغدادي رحمۃُاللہِ علیہ هم د هغه سحر نه په **جامِع مسجِد** کښې بيان شروع کړو: په خلقو کښې دا خبره ډيره زر خوره شوه چې د نن نه **جُنيد بَغدادي** رحمۃُاللہِ علیہ بيان فرمائيل شروع کړي دي. يوه ورځ يو ځلمے په اجتماع کښې پاڅيدو او تپوس ئې وکړو. اے **شيخ**! د حضورِ اقدس صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم د دې **ارشاد مبارك**: اِتَّقُوْا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّهٗ يَنْظُرُ بِنُوْرِ الله يعني د مُومِن د فِراست نه اويَرېږه ځکه چې هغه د الله تعالیٰ په نور ليدل کوي. (ترمذی ج5 ص88 حديث3138) څه مطلب دے؟ د هغه سوال ئې چې واوريدو نو د لږ ساعت د پاره حضرت سَيِّدُنا شيخ جُنيد بَغدادي رحمۃُاللہِ علیہ سر ښکته کړو بيا ئې چې سر مبارك راپورته کړو نو (د غيبو خبر ئې ورکړو او) ارشاد ئې اُوفرمائيلو: اے ځلميه! ته نصراني (يعني عيسائي) ئې او اوس ستا د مسلمانيدو وخت راغلے دے، ايمان راوړه، هغه ځلمے واقعي عيسائي وو، اَلْحَمْدُلِلّٰه دا کرامت ئې چې اوليدو نو هم په هغه ساعت مسلمان شو.

(روض الرياحين ص 157)

د الله پاک دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي.

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم

نگاہِ ولی میں وہ تاثیر دیکھی          بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## الله خپلو اولياؤ ته د غيبو علم ورکوي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونو! د دې حکايت نه د مُبَلِّغ مقام معلوم شو. سُبْحٰنَ الله! سَيِّدُنا شيخ جُنيد بَغدادي رحمۃُاللہِ علیہ د عاجزئ په طور خپل ځان د بيان کولو اَهَل نه ګڼلو، حالانکه

د **اللّٰه**تعالٰیپه فضل وکرم سره هغوئي رحمۃُاللہِ علیہ زبردست عالِم وو، په هغوئي رحمۃُاللہِ علیہ باندې ډېر لوئے کرم دااوشو چې په خوب کښې ئې رسولِ اَکرَم، نُورِ مُجَسَّم، شاهِ آدم و بني آدم صلّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلّم تشریف راوړو او د بیان کولو حکم ئې ورته اُوفرمائیلو. د دې حکایت نه دا هم معلومه شوه چې زمونږه **مَکّي مَدَني مُصطفٰی** صلّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلّم د **اللّٰه** تعالٰی په عطا [یعني د **اللّٰه** تعالٰی په ورکړه] د غیبو عِلم لري، خوږ پیغمبر صلّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلّم ته معلومه وه چې جُنَید بَغدادي ته د هغوئي پیر و مُرشِد د بیان کولو وائي او بیا هم هغوئي په بیان کولو کښې شرم محسوسوي، لِهٰذا خوږ آقا صلّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلّم پخپله د هغوئي په خوب کښې تشریف راوړلو او د بیان کولو حکم ئې ورکړو. او دا هم معلومه شوه چې د **خوږ مصطفٰی** صلّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلّم په بَرَکت اولیائے کرامو ته هم د غیبو علمِ وي ځکه خو حضرت سَیِّدُنا **سَرِي سَقَطي** رحمۃُاللہِ علیہ د خپل خاص مُرید د خوب نه خبر شو. بله دا چې حضرت سَیِّدُنا شیخ **جُنید بَغدادي** رحمۃُاللہِ علیہ هم نصراني یعني عیسائي کس په خپل مُومِنانه فِراست اُوپیژندو او په حیرانوونکي انداز کښې ئې هغه ته د **غیبو** د خبر ورکولو سره د **نیکئ دعوت** ورکړو او هغه د کَرامت نه ډک د نیکئ د دعوت په بَرَکت سمدستي د اِسلام د اَمن په لمَن کښې راغے.

## د فِراست تعریف

په حدیث مُبارك کښې د "فِراست" ذکر دے د دې په معنٰی هم ځان پوهه کړئ. د **فِراست** معنٰی دا ده چې: اللّٰه تعالٰی د خپلو اولیاؤ په زړونو کښې هغه څیز اچوي چې د هغې په وجه هغوئي ته د بعضو خلقو د حالاتو علم کیږي. (اَلنِّهایَة ج3 ص383) سرکارِ اعلٰی حضرت رحمۃُاللہِ علیہ د خپل خوږ خوږ آقا مَکي مَدَني مصطفٰی صلّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلّم د **عِلمِ غیب** شریف نه ډک د بے مثاله نظر د اوچت والي د بیانولو د پاره څه ښکُلے شعر جوړ کړے دے:

سرِ عرش پر ہے تری گزر، دلِ فرش پر ہے تری نظر
ملکوت وملک میں کوئی شے نہیں وہ جو تجھ پہ عیاں نہیں

شرحِ کلامِ رضا: **یا رسولَ اللّٰه** صلّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلّم! د عرش د پاسه او په فرش یعني زمکه کښې

دننه هر یو څیز تاسو صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ښکاره دے. په دُنیا جهان کښې داسې یو څیز نشته چې هغه تاسو صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ښکاره نه دے.

## زما د دوست خوب

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـړو! زما مَکّي مَدَني آقا د غیبو نه خبر دے. راځئ په دې باره کښې د **دعوتِ اسلامي** د جوړيدو نه **مخکښې** اوريدونکے يو ايمان تازه کوونکے خوب واورئ: چنانچه يو اسلامي ورور چې سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ ته څه وئيلي وو د هغې خلاصه ده: **اَلْحَمْدُلِلّٰه** ما ته په خوب کښې د جنابِ رِسالَت مآب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دِيدار کولو سعادَت نصيب شو، ما د عرض کولو هِمَّت اوکړو چې: **يا رسولَ الله** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا تاسو ته **عِلمِ غيب** شته؟ ارشاد ئې اُوفرمائيلو: آو. د دې نه پس سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو آيت قرآني تلاوت اوکړو، د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شونډو مُبارَکو نه تلاوت، د هغوئې صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکُلے آواز او د حروفو د ادا کولو حُسنِ اُسلوب (يعني د حروفو د خپلو مخارجو سره په ښائسته انداز کښې ادا کول) مرحبا! داسې ښکُلے او خوږ آواز او قِراءَت ما کله هم نه وو اوريدلے، آيتِ مبارکه خو زما نه هير شوے دے، خو دومره را ته ياد دي چې د هغې په آخِره کښې لفظ ضَنِيْن وو، په دې ما (يعني سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ) هغه ته د سيپاره 30 **سُوْرَۃُ التَّكْوِير** آيت نمبر 24 واورولو: وَ مَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ ﴿٢٤﴾ نو هغه اسلامي ورور اُووئيل: آو آو هم دا آيتِ کريمه وو. سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ هغه ته د آيتِ کريمه تَرجَمه واورَوَله او عرض ئې ورته اوکړو چې يقيناً سرکارِ دوعالَم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د **الله** په رحمت و عِنايَت **عِلمِ غيب** شته دے.

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـړو! د دې **حکايت** نه دې څوک په دې وسوسه کښې نه اخته کيږي چې اُوګورئ! اوس د خوبونو نه **عِلمِ غيب** ثابتوي حالانکه د غيرِ نبي ليدلے خوب خو حُجَّت (يعني دليل) هم نه وي. سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ د دې خبرې اِقرار کوي چې واقعي هره مسئله په خوبونو نه حل کيږي، خو دلته د خوب نه نه بلکه په خوب کښې په ورکړے شوي جواب کښې موجود د بيان شوي قرآني آيت نه د **عِلمِ غيب** ثبوت پيش کيږي او هغه آيتِ

کریمه واقعي د عِلمِ غیبِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دلیل دے. لِهٰذا ذکر کړے شوے آیت د ترجَمے سره اُوګورئ:

وَمَا هُوَ عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِيْنٍ ﴿۲۴﴾ (پ30 اَلتَّکوِیر24)

مفهوم ترجمۂ کنزُ الاِیمان: او دا نبي په غیبو ښودلو باندې بخیل نه دے.

د دې آیتِ مبارَکه نه معلومه شوه چې مَکّي مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **غیبو** خبر ورکوي او ښکاره خبره ده چې ښائي به ئې هم هغه کس، چا ته چې عِلم وي. نو بیشکه او بے شُبه د **رَبُّ الْعٰلَمِین** جَلَّ جَلَالُہٗ په عطا **رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **عِلمِ غیب** د دولت نه مالا مال دے. په بارګاهِ رِسالت کښې عاشقِ ماهِ رِسالَت اعلیٰ حضرت عرض کوي:

اور کوئی غیب کیا تم سے نِہاں ہو بھلا

جب نہ خدا ہی چھپا تم پہ کروڑوں دُرود (حدائق بخشش شریف)

شرحِ کلامِ رضا: **یا رسولَ الله** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستاسو د لوئے شان به څه وایو! د مِعراج په شپه بالکل د بیدارئ په حالَت کښې تاسو د خپل سر مبارَك په سترګو د خپل پروردَګار عَزَّوَجَلَّ دیدار اوکړو، نو دغسې چې **الله** تعالٰی غیبُ الغیب [یعني د ټولو نه زیات غیب] دے هغه هم د هغه جَلَّ جَلَالُہٗ په فضل و کرم په تاسو ظاهر او ښکاره شو نو اوس بل کوم یو غیب ستاسو نه څنګه پټ پاتي کیدے شي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په یو ټوکر کښې د اُحُد زَلزله ختمه شوه

په **بُخاری شریف** کښې دي: د **حضرت سَیِّدُنا اَنَس** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې **سرکارِ مَدینۂ مُنَوَّره، سردارِ مَکّۂ مُکَرَّمه** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او **حضرت** سَیِّدُنا ابو بکر صِدِّیق او **حضرت** سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم او **حضرت** سَیِّدُنا عُثمانِ غَنی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ اَجْمَعِیْن د **اُحُد** غر ته تشریف یوړلو نو

هغه (د خوشحالۍ نه) په خوزيدو شو. خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه [يعني اُحد غر] په ټوکر اووهلو او اوئې فرمائيل: اُثْبُتْ اُحُدُ فَاِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَّ صِدِّيْقٌ وَّ شَهِيْدَانِ. [اے] اُحده! اودريږه ځکه چې په تا د پاسه يو نبي،يو صِدِّيق او دوه شهيدان دي. (صحيحُ البُخاري ج2 ص524 حديث 3675)

ایک ٹھوکر میں اُحد کا زَلزلہ جاتا رہا
رکھتی ہیں کتنا وقار اللہُ اکبر ایڑیاں (حدائقِ بخشش شریف)

## د ذِکر شوي حديث نه عِلمِ غيب ثابتيږي

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د "بُخاري شريف" د ذِکر شوي حديث نه اَظْهَرُ مِنَ الشَّمْسِ وَاَبْيَنُ مِنَ الْاَمْسِ (يعني د نمر نه زيات روښانه او د تيرې شوې ورځې نه زيات قابِلِ يقين) دي چې زمونږ خوږ خوږ آقا مَكِّـی مَدَنــی مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د الله په عطا سره **عِلمِ غيب** شته دے، ځکه خو آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُحُد غر ته ارشاد اُوفرمائيلو: چې په تا د پاسه يو "**نبي**" يو صِدِّيق او **دوه شهيدان** دي. د چا په باره کښې د هغه په ژوند دا وئيل چې دا **شهيد** دے، که دا د **غيب** خبر نه دے نو نور څه دي. د دې حديثِ پاك لاندې مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الْاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په مِراٰة جلد 8 صفحه 408 نه 409 کښې فرمائي: معلومه شوه چې د **الله** (تعالیٰ) مقبول بندګان ټول **مخلوق** (يعني وَنو، کاڼــو، دريابونو او غرونو ټولو) ته محبوب (ګران) دي، د هغوئي په تشريف راوړو ټول **خوشحالي** کوي، کاڼـي او غرونه هم هغوئي پيژني. نور فرمائي: دا هم معلومه شوه چې حُضُور (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دټولو د اَنجام (يعني ښې يا بَدې خاتمے) نه خبر دے ځکه خو ئې اُوفرمائيل چې: په دې کښې به دوه صحابه **شهيدان** کيږي. (مِراٰة ج8 ص408)

رب کی عطا سے سب کچھ جانے دیکھے بَعید و قریب
غیب کی خبریں دینے والا اللہ کا وہ حبیب

اللّٰه اللّٰه، اللّٰه هُو، لا اِلٰه اِلَّا هُو

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## دَ غيب تعريف

مشهور مُفَسِّر حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په "تَفسِيرِ نَعِيمى" كښې فرمائي: د غيب (لفظي) مَعنٰى ده غائب يعني پټ څيز. په اِصطِلاح (يعني مخصوص مرادي معنٰى) كښې غيب هغه څيز ته وائي كوم چې د ظاهري باطني حواسو (يعني محسوس كوونكو قوتونو) او عقل نه پټ وي يعني چې نه هغه د ستركې، پوزې او غوږ وغيره په ذريعه معلوميدے شي او نه د سوچ او فكر كولو په ذريعه په عقل كښې راتلے شي. (تفسيرِ نَعيمي ج1 ص121) مَثَلاً جَنَّت زمونږ د پاره اوس غيب دے ځكه چې هغه مونږ په حواسو (يعني ستركه، پوزه، غوږ وغيره) هډو معلومولې نه شو.غيب هغه دے چې زمونږ نه پټ وي او مونږ په خپل حواسِ خمسه يعني د ليدلو، اوريدلو، بوئي كولو، څكلو او لاس لګولو هغه معلوم نه كړې شو او نه ئې عقل په سوچ او فكر كولو معلومولے شي.

(مُلَخَّص از تفسيرِ بيضاوى ج1 ص116 وغيره)

## د عِلمِ غيب مُتَعَلِّق دَ اَكابِرينِ اُمَّت اقوال

دَ انبيائے كرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام په فيضان [يعني بَرَكتونو] اولياء كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ السَّلَام ته هم عِلمِ غيب عطا كيږي. چنانچه په دې باره كښې د اَكابِرينِ اُمَّت اقوال اُوګورئ: حضرت عَلَّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: زمونږ عقيده ده چې بنده د درجو په ترقئ روحاني صِفَت ته رسي هغه وَخت هغه ته عِلمِ غيب حاصليږي. (مِرقاةُ المَفَاتِيح ج1 ص128) په يو بل مقام كښې ليكي: "د ايمان د نور د قوّت په زياتيدو بنده د څيزونو د حقيقت نه خبريږي او په هغه باندې نه صرف غيب بلكه د غيبو غيب هم روښانه شي." (ايضاً119)

**امام ابنِ حجر** رحمۃُاللہِ علیہ فرمائي: ”اولیاؤ ته د کومې واقعې یا واقعاتو عِلمِ غیب حاصلیږي دا بالکل صحیح دي، په دوئي کښې د ډیرو حضراتو نه داسې ظاهر شوي او مشهور شوي دي.“ (اَلْاِعلام بِقواطِعِ الْاِسلام ص359)

د سلسلۀ عالیه نقشبندیه امام حضرت سَیِّدُنا **عزیزان** رحمۃُاللہِ علیہ به فرمائیل: د اولیاؤ د دې ډَلې په نظر کښې زمکه د دسترخوان په شان ده. (نَفحاتُ الانس ص387) **یعني** څنګه چې په دَسترخوان [پروت] هر څیز ښکاري دغه شان د زمکې هر څیز دوئي ته ښکاري. حضرت خواجه **بَهاؤُ الـحَقِّ وَالدِّین** نقشبندي رحمۃُ اللہ علیہ [د حضرت سَیِّدُنا عزیزان رحمۃُ اللہ علیہ] دا قول نقل کوي اَو فرمائي: ”مونږ وایو چې (زمکه د دوئي د پاره) دَ نُوک د پاسنۍ ډډې په شان ده او یو څیز هم د دوئي د نظر نه غائب نه دے.“ (ایضاً ص387، 388)

مشهور مُفَسِّر حَکِیمُ الْاُمَّت حضرت مُفتي احمد یار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په تَفسیرِ نَعیمي جلد 4 صفحه 371 کښې د تفسیرِ ”روحُ المَعاني“ په حواله لیکـي: ”بعضي اَهْلِ کَشْف اولیاءُ الله هم په غیبو خبرداره کیږي خو د نبي په واسِطه، بغیر د واسِطې نه نه.“ (روح المَعانی ج4 ص475)

زمونږ **غوثِ اعظم** رحمۃُاللہِ علیہ په قصیدۀ غوثیه کښې فرمائي:

نَظَرْتُ اِلٰی بِلَادِ اللهِ جَمْعًا
کَخَرْدَلَةٍ عَلٰی حُکْمِ التِّصَالِیْ

(ترجمه: ما د **الله** ټول ښارونه داسې اولیدل لکه د وړې یو څو دانې چې را یو ځائے شوي وي)

حضرت سَیِّدُنا شیخ عبدُالحق مُحَدِّث دِهلوي رحمۃُاللہِ علیہ په ”اَخبارُالْاخیار“ صفحه 15 کښې د غوثُ الاعظم رحمۃُاللہِ علیہ دا ارشاد نقل کړے دے چې: ”**که شریعت زما خُله نه وے بنده کړې** نو ما به تاسو ته خبر درکړے وے چې تاسو په کور کښې څه خوړلي دي او څه مو ساتلي دي، زه

**ستاسو د ښکاره او پټ نه خبر يم ځکه چې تاسو زما په نظر کښې د داسې شيشې په شان ئې چې د هغې نه اخوا ديخوا ښکاري."** حضرت مَولانا روم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په **مَثنوي شَريف** کښې فرمائي:

لوحِ محفوظ اَست پیشِ اولیاء　　　اَز چہ محفوظ اَست محفوظ اَز خطا

(يعني لوحِ محفوظ د اولياءُ الله مخې ته وي چې هغه د هرې خطا نه محفوظ وي)

شاه عَبدُ العزيز مُحَدِّث دِهلوي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په **تفسيرِ عزيزي** کښې د "**سُوۡرَةُ الۡجِنّ**" په تفسير کښې ليکي: "د لوحِ محفوظ خبر لرل او د هغې ليک ليدل د بعضې اولياءُ الله نه بطَريقِ تَواتُر [ يعني په تَسَلسُل] سره منقول دي."

**نوټ:** د اميرِ اهلِ سُنّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَة د کتاب "نیکی کی دعوت" مضمون دلته ختم شو.

## د الله والؤ صِفات

حضرت عَلّامه مولانا مُفتي نعيمُ الدّين مُراد آبادي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د وليانو د صفاتو په بيان کښې ارشاد فرمائي: **وَلِيُّ الله** هغه دے څوک چې د فرائضو د ادائيګئ په ذريعه د **الله** پاک قُرب حاصل کړي او د **الله** تعالٰی په فرمانبرداري کښې مشغول اوسي او د هغه زړه د **الله** تعالٰی د نُورِ جلال په معرفت کښې مستغرق (يعني ډوب) وي، چې کله ګوري د قدرتِ اِلٰهی دلائلو ته ګوري او چې کله اوري نو د **الله** تعالٰی آيتونه اوري او چې کله خبره کوي نو د خپل رب ثناء بيانوي او چې کله حرکت کوي نو د **الله** تعالٰی په فرمانبردارئ کښې حرکت کوي او چې کله کوشش کوي نو په هُم هغه کار کښې کوشش کوي کوم چې **الله** پاک ته د نزدې کيدلو ذريعه وي، د **الله** پاک په ذِکر نه ستړے کيږي او د زړه په سترګو د خدائے نه سِوا غير ته نه ګوري. دا صفات د اولياء دي، بنده چې کله دې حال ته اورسي نو **الله** پاک د هغه ولي و ناصر او مُعِين و مددګار وي. (خزائن العرفان، پ:11، سورۂ یونس، تحت الآیۃ 62)

## د راتلونکي هفتې رساله




عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پرانې سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net